مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۲/۰۱/۰۵

# خاورې په سر

## لنده کیسه

په تور پروني کې داسې تاوه وه لکه د کرونا مرې. د دروازې شاته غلې ولاړه وه. لاس به يې اوږد کړ؛ خو لکه چې د ټکولو جرئت يې نه درلود. کله به يې دواړه لاسونه پر ور کېښودل، غاړه به يې کږه کړه او غوږ به يې له دروازې سره سرېښ کړ او کله به بېرته لرې شوه.

حیران وم؛ دا شين سهار، دا شرقنده باران او بیا... ما ویل که میلمنه ده، ما ویل که سوالګره ده؛ خو یوې غوندې هم نه ښکارېده.

حجره مو دویم منزل کې وه او کړکۍ يې همدې کوڅې ته وه. د کړکۍ خواته ولاړ وم او بیرون مې د جړۍ باران ننداره کوله. د انګړ منځ کې ولاړې ونې ته مې کتلې چې مرغۍ ځاله کې پر بچيو وزرونه راخواره کړي وو.

ځ ځلې مې تصمیم ونیوه چې ور پرانیزم او غږ کړم؛ خو پردۍ تور سرې ته غږ کول راته خطرناک ښکاره شول. چې سهار چای ته راښکته شوم، نو همدا صحنه رایاده شوه. ما لا پوښتنې ته ځان جوړاوه چې مور مې ویل: هغې بېچارګۍ لکه چې ټوله شپه په وېښه تېره کړې وه، سهار وختي...

ژر مې پیاله کېښوده او سر مې ورانديې کړ. ما پوښتنه کوله چې مور مې ویل:

فيروزه دې يادېږي؟

- هو، ولې نه. هغه زموږ ګاونډۍ؟

- هو، هو. هماغه خوارکۍ. هغه یوه ورځ چې يې تا کیسه کوله.

سترګې يې ډکې شوې او نوره غلې شوه.

یوه شیبه مې مور ته وکتلې او بیا هماغه ورځ را یاد شوه:

مازیګر قضاء، يو دم داسې چیغې شوې ما ویل که دیوالونه به راونړېږي او د ګاونډیانو ټوله کورنۍ به راښکاره شي. په منډه کوڅې ته ووتلم. د دروازې مخې ته خلک راټول و. یو دم ور پرانیستل شو او بیا یوه، نرۍ میرمنه ،چې شین ټکرې يې له سره راتاو و، په منده راووتله. لاره کې ترې پوړنې هم ولويده، چپلکې يې له پښو ووتلې، شاته ورپسې دوه کوچنيو ماشومانو چیغې وهلې خو دا همداسې چابکه ځغاستله.

اوازه داسې وه چې چاودنه کې ګڼ کسان مړه شوي او د یوه نبښي نښاني ټولې د اکرم غوندې وې او اکرم په هماغه ځای کې کوچنۍ دوکان درلوده.

پیروزې منډې وهلې او په منده کې يې چیغې وهلې: خاورې مې په سر شوې، لکه چې له اکرمه خلاصه شوم... مور مې ورو غاړه صافه کړه، زما د فکر لړۍ هم وشلېدله. ژر مې ور وکتل. هغې ویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولئ

ته چې له کوره په مساپرۍ وتلې، هغو ورځو کې هم د دوی حالت ښه نه و. هره ورځ جنګ، هره ورځ دعوې دنګلې. دا جنجالونه له هغې وروسته شروع شول چې څلورمه لور یې وزیږوله. ورپسې یې خسر مړ شو او بیا یې یو ځوان لیور ټرافیکي پیښه کې معیوب شو. ښځو به پیغورونه ورکول چې دا ټول د پیروزۍ سپیره قدم دی. دا خبره به بس پرې، ډیره کوله. هغې بدنیتې همدې خوریې ته خپله لور ورکوله؛ خو چې اکرم قبوله نکړه نو ورسره ورانه یې شوه. نوره غلې شوه. خو زما په مغز کې داسې شور را والوت، ما ویل که کوپړۍ به را ماته کړي.

ښه، سمه ده چې دا هر څه شوي؛ خو په دې شنه سهار او شړقنده باران دا ننداره ولې؟ فیروزې د خپل کور دروازې شاته څه کول؟ څه یې غوښتل؟ ولې خپل کور ته نه ننوتله؟ او...؟

مور مې بیا غاړه تازه کړه او زه ورته دومره نږدې شوم چې نږدې به مې سر د هغې له سر سره جنګیدلی و:

فیروزه کله ــ کله په بدلو جامو کې راځي. هغه ورځ یې لیدلي و چې کوچنۍ لور یې خوابښې، شفاخانې ته راوړې وه او بیا یې لیدلي و چې لاس کې یې کنول چوخ و. مازیګر قضاء موړ کره راغله. وارخطا وه، زنې یې راته نیولې او همدا یې ویل: خیر دی تروري، شګوفې ته سرسر پوخ کړه، خیر دی، د هغې ډیر خوښیږي. د هغې چې به کله هم تبه وه، نو همدا یې غوښته. خیر دی، زه به یوه جمعه راځم او کور به دې جارو کوم. خیر دی تروري، زه خو لرې یم، د پلار له کوره څه نشم راوړلی، خیر دی تروري زه خو شګوفې ته څه نشم ور وړلی...

مور مې په ژړا شوه، ستونی یې بند شو او بیا یې په بند ـ بند غږ کې ویل:

دې ظالمانو ترې واړه واړه بچي هم ستانه کړي.

۱۴۰۰ /جدي ، ۱۴مه
محمد نعمان دوست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ